مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

آصف بهاند ۲۰۲۶/۰۹/۲۸

# د لنډیو اصلي منابع خلک دي

## ۴۹مه‌برخه

## لنډۍ، د ښتولو ستونزه

## ۴۰۱مه برخه

دا دی یوځل بیا ګران دوست او د لنډیو د راټولولو په کار کې زما دایمي همکار عبدالعزیز نائیبي مهرباني کړې ده او څو راټولې کړې لنډۍ یې را لیږلې دي، په پیل کې یې داسې راته لیکلي دي:

**ګران استاده سلامونه درناوی!**

**دا هم څو لنډۍ :**

زه به یې هم له تاسو درنو لوستونکو سره شریکې کړم:

**زړه ته مي خپله مخه ورکړه**
**لکه ماشوم اوس په توپو راڅخه ځینه**

**زړه مي څلور ځایه سوری دی**
**هره توټه یي استغفار ناري وهینه**

**د بل وطن اشنا رایاد شو**
**د سپرلي ګل مي له کمڅو نه ولوېدنه**

**د سپني خولي وړی دي نه یم**
**د ژاولي ټک دي په زړګي ویشتلی یمه**

**د اماراتو په قانون کي**
**وړکي یي ښځي کړي، مړی پړی پخوینه**

**د لبوني په زړه به څه وو**
**وروستي دیدن کي یي په شا راوکاتنه**

**د مازدیګر خوندونه لاړل**
**په جدائي د اشنا وران شول محفلونه**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په څیر و لولئ

ما ته واده مه کوه موري
ښځې له مېندو نه زامن جدا کوينه

مرګی د سترګو کونج ته راغی
ما وپل سلام دی، ده وې کور دې ړنګومه

مرګیه څه لږه دې وکړه
دغسې لږه د رمو لېوان کوينه

له ياره زړه صبرول ګران دي
په دريابونو کرښې چا راکښلي دينه

بوتی خو نه يم چې لمبه شم
د عشق په اور به غوښې ورو، ورو وريتومه

بېلتون سودا راسره وکړه
غوښه يې پرې کړه، تش هډوکي پاتې شومه

پاس په بنګله کې فرياد خېژي
يا ځوک ناروغ دی، يا د يار له غېږې ځينه

په زړه مې تور چونجی لګيا دی
د خوشحالی غوښه ترې خوري، د غم پرېږدينه

په اخرت خوار شې ريباره
په ايرو پټ اور دې ليده، پرې ودې سومه

په نه خبره، مروره
واوره خبره، زه دې نه پخلا کومه

پېکی دې پولې، پولې جوړ کړه
ما پرې باغوان کړه، چې ګلان پرې وکرمه

پردی وطن دی، ماخستن دی
له پرهرونو نه سندرې جوړومه

حساب به کېږي محشر شته دی
جانان له بدو نه ګيدی ترلې دينه

خال دې پيلوټ، مخ طياره ده
په زخمي زړونو، غورځوي نپال بمونه

قصابه تبر به دې مات شي
زما هډوکي بېلتانه وچ کړي دينه

که يادول دې په پيسو وای
له پاکستانه به زه زيات قرضداره ومه


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

**که وای خبره، ملنګ ټک دی**
**ما به کچکول له ایرو ډک ورکړی ونه**

**کله به راشي په ژوند ورکه**
**زما له سترګو نه تور ځي، ړنده به شمه**

**وریږې دې نه خورمه، مړه یم**
**ما له لالي سره کولچې خوړلي دینه**

**یو واري بیا په دې لار راشه**
**چې په ما ړنګه دنیا بیا اباده شینه**

**نصیبه سترګي دې بیا سرې دي**
**ما ته دې بند موتي کې څه نیولي دینه**

**نصیب مې نهشوې کلیوالي**
**سوال د مرګي راته کوه چې خاورې شمه**

**ستا یارانه اور او اوبه ده**
**اور مې سیزي، اوبه مې بنکته ډوبوینه**

**سترګي مې تا ته تورولي**
**چې ته رانغلي په تیکري یې پاکومه**

نوربیا
د لیکوال نورې لیکنې په لاندې لینک کې لوستلای شئ:
http://afghan-german.com/tahLiLha/EditAutor.aspx?95


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ